عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۳/۰۳

# پاکیستانه!

## لاوا Lawa پېژنې؟

لاوا مذاب یا ایشنده اور ته وایي، چې کله هم له زمکې د راوتلو کوشنی منفذ (سورى) ومومي، نو اورغورځونه کوي، شاوخوا سیزي، د ایشنده راوتلو پرمهال زلزله پېښوي او غرونه ترې جوړیږي.
ستا په وړاندې د افغان لوی ملت غوسه، کرکه او عقده یوه ایشنده لاوا ده، چې له یونیم سل کلونو راهیسې پټه ایشېده، ستا له زیږېدا مشره ده، خو ستا له زیږېدا سره راوخوټکېده، د زمکې سر ته راغله او همدا څو ورځې وړاندې یې ستا له بمبارونو سره منفذ ومونډ.
بد رقم تېروتلې، چې پر افغانستان دې راوبلوسل.
اوس نو دغې لاوا داره کړې، په فوران راغلی. د افغانانو په ګډه تاریخي حافظه کې داسې لاوایي کرکه نه د انګریز په وړاندې ایشېدلې او نه د شوروي په وړاندې .
دا د لر و بر افغانانو د غوسې لاوا اوس د زمکې له سوري څخه راوتلې ده او هرڅه سیزي. دې ته اوس هیڅوک وړاندې نهشي ورتللی.
دا لاوا خپل ټول چاپېریال سیزلی شي.
له تا سره کومه خاصه دله په جګړه نهده، ته اوس د یوه ملت د یونیمسل کلني غوسې له ایشنده اور سره مخامخ یې، چې اوس یې نو تا روزلي کوډګر هم نهشي کنټرولولی.
دا اور تر زمکې لاندې ویشېده، سخت تېروتلې، چې بمبار دې وکړ، لاوا ته دې لار پرانیستله، اوس یې نو مخنیوی نه کیږي. ښایي له لرې به ښه ښکاري، ژر به یې په تاو پوه هم نهشې، د لوبو شوق به هم درپیدا کیږي، خو لکه چې له تاریخه بیخي بېخبر یې.
پینځه لسیزې دې د دې لاوا په وړاندې سپېڅلی اسلام ډال کړی و، خو نور دې نو دا ډال هم بایلود.
دا نه هیندوستان دی، نه بنګال. د افغانستان څه بل ډول کیسه ده.
له بد دوزخ سره مخامخ یې. دا ژر نهسړیږي، ځان هم سیزي او خپل چاپېریال هم.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ